# ځوک چې د الله جل جلاله په لار کې (په جهاد کې) یوه ورځ روژه ونیسي، الله تعالی به يې اويا کاله مخ له اور څخه لرې وساتي

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «ځوک چې د الله جل جلاله په لار کې (په جهاد کې) یوه ورځ روژه ونیسي، الله تعالی به يې اويا کاله مخ له اور څخه لرې وساتي».
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي چې چا په جهاد کې یوه ورځ روژه ونیوله، او ویل شوي چې په جهاد او یا بل څه کې پدې شرط چې خاص د الله لپاره او له الله تعالی څخه د اجر او ثواب تر لاسه کولو په نیت وي؛ نو الله تعالی به په خپل فضل د هغه او د اور تر منځه اويا کاله لرې والی راولي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4436